# شتمني SHTAMANI

اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

چهارشنبه | د جمادي الأول ۹-۱۴۴۵ / د لیندۍ ۱-۱۴۰۲/د نومبر ۲۲-۲۰۲۳/دوهم کال / ۷۵ گڼه/ ٤ مخيز

۱


د مصافحې اجر، ثواب او برکتونه:

د حدیث شریف ژباړه: کله چې دوه مسلمانان سره مخامخ سي، مصافحه (روغبړ) وکړي او د الله تعالی حمد ووايي او د ځانونو لپاره مغفرت وغواړي؛ نو دواړو ته مغفرت کېږي. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

اجر، ثواب و برکات مصافحه:

ترجمه حدیث شریف: هنگامیکه دو مسلمان رو برو شود، مصافحه (احوال پرسی) کنند و حمد خداوند متعال بگویند و برای خود مغفرت خواهی کنند، هر دو بخشیده می شوند. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

## سرمقاله

### برگشت دوباره ملی بس های دولتی به جاده های کشور

شرکت دولتی مسافربری ملی بس یگانه نهاد ارائه کننده خدمات ترانسپورتی به قیمت نازل در شهر کابل و سراسر ولایات کشور می باشد که از شش دهه بدینسو این خدمات را برای مردم ارائه می نمایند. این شرکت برای نخستین بار در سال (۱۳۳۴) با سرمایه ابتدایی (۳۰۰) میلیون افغانی و دارا بودن (۱۲۰) بس آغاز به کار کرد. شرکت بعد از چندین سال فعالیت پس از آن که نتوانست میزان درآمد و مصارف خود را مدیریت کند، ورشکست گردیده و به بانک ملی افغان مقروض گردید. شرکت بعد از فرمان رئیس جمهور وقت در سال (۱۳۵۴) به تصدی دولتی مبدل گردید و در زیر چتر وزارت مالیه آغاز به کار کرد که با وارد کردن سرویس های شهری از کشورهای همسایه مانند ایران، هندوستان و بعداً کشور بلغاریا و سرویس های برقی از کشور چکسلواکیا به عرضه خدمات ترانسپورت شهری پرداخت. اکنون نزدیک به پنج دهه از آن زمان می گذرد، اما متاسفانه بنا بر شرایط سیاسی، جنگ های داخلی و ضعف مدیریتی این اداره نتوانسته است که به خودکفائی مالی برسد. اوج فعالیت تصدی ملی بس بعد از سال (۱۳۵۷) الی سال (۱۳۷۱) بود که عرضه خدمات ترانسپورت ارزان، علاوه از شهرکابل به ولایات کشور نیز توسعه پیدا کرد و برای زمان محدود در مسیر های خارج ازکشور نیزفعالیت نموده است. چند سال قبل شرکت خصوصی بنام (لایف ستار) با تورید یک تعداد بس های خورد و کلان در عرصه ترانسپورت شهری سرمایه هنگفتی را سرمایه گذاری نمود اما بعد از یکی دوسال فعالیت ورشکست گردید وفعالیت وسایط خود را توقف داد. ریاست عمومی شرکت های دولتی وزارت مالیه در همکاری و هماهنگی با دولت افغانستان در نظر دارد تا این بخش مهم را سرپا ایستاده کند و آنرا به یک منبع عوایدی برای دولت افغانستان مبدل سازد. طوریکه میدانیم قبل از تحولات اخیر در کشور تعداد وسایل فعال شرکت دولتی ملی بس تقریبا به صفر رسیده بود اما در دو سال گذشته شرکت دولتی ملی بس بیش از (۱۷۰) عراده وسایط را ترمیم و دوباره بکار انداخت که از جمله (۱۳۰) عراده آن در شهر کابل و (۴۰) عراده آن در ولایات توظیف شده و خدمت رسانی می نمایند. مسوولان مربوطه می گویند که در نظر است تا بیش از (۷۰۰) عراده وسایط دوباره ترمیم و در جاده های شهر کابل و ولایات راه اندازی شوند. هدف آنست که دولت از یکسو می خواهد که سیستم ترانسپورتی منظم، سریع، معیاری و مجهز را با وسایل و تکنالوژی عصری که جوابگوی نیازمندی های مردم باشد، مهیا سازد و از سوی دیگر عواید ملی را بیشتر نماید تا بتواند از وضعیت موجود شرکت دولتی مسافربری ملی بس را به وضعیت مطلوب « اداره ی معیاری و خدمتگزار» برساند. در حال حاضر بخش بزرگ از منبع عوایدی تصدی ملی را کرایه جایدادهای آن تشکیل می دهد، مطابق به راهکاری که دولت به خاطر فعال ساختن این شرکت مهم دارد، دریافت چشمه های عایداتی جدید و ترمیم و بکارگیری وسایط قابل ترمیم میتواند که این بخش مهم را به صورت تدریجی به پا ایستاده نماید و این شرکت بتواند جایگاه تاریخی خود را دوباره احیا نماید. از آنجائیکه شرکت مسافربری ملی بس در حال حاضر (۸۱) پایه ماشینری فعال، (۷۲) تن میخانیک، (۵۱) تن انجینیر مسلکی، به ارزش یک میلیون افغانی پرزه جات و (۱۹٦) متر مربع جایداد در مرکز و ولایات کشور و بیش از (۵۰۰) عراده بس ترمیم طلب دارد، در صورت تطبیق راهکاری که دولت افغانستان برای فعالیت مجدد این شرکت دارد، این شرکت میتواند که به صورت تدریجی به پای خویش ایستاده شود و آهسته آهسته گام های مهم را برای رسیدن به خود کفایی مالی برساند و به یکی از چشمه های عایداتی پایدار مبدل شود.

با احترام

اداره

## د بین البانکي ادائینو نوی سیستم پرانیستل سو




اې سي اس اس (ACSS) سیستم، چې نوی د افغانستان بانک له لوري رغول سوی دئ، د مالیې وزارت او د افغانستان بانک د یو شمېر مسؤلینو له لوري پرانیستل سو. د (ACSS) سیستم د مالیې وزارت د (Sigtas, Afmis, Asyucuda) او د افغانستان بانک (CBS) سیستمونو سره په اسانۍ نښلېدای سي. یاد سیستم، چې په نړیوالو سټنډردونو برابر او امنیتي برخه ئې بشپړه خوندي ده؛ د مالیې وزارت د ملي عوایدو، دولتي کارکوونکو ته د معاشونو د اجراء او بانکي برخو لپاره به مثبتې پایلې ولري او په اړوندو برخو کې به لا ډېره روڼتیا، چټکتیا او اسانتیاوې رامنځته کړي.

## د زېربناوو د شریکوني تخنیکي بورډ غونډه جوړه سوه



د زېربناوو د مشارکت رئیس او د مالیې وزارت پالیسۍ معینیت د عامه پانگوني د عمومي مشارکت او زېربناوو د ریاست سرپرست، محمد صابر نثار په مشرۍ او د مالیې وزارت اداري معین او پالیسۍ معینیت د کفیل مولوي حمدالله زاهد په حضور او د وزارتونو او خپلواکو ادارو د استازو په گډون د زېربناوو د شریکوني تخنیکي بورډ غونډه جوړه سوه. محترم مولوي حمدالله زاهد د دغي غونډې په پرانیستې وینا کې له گډونوالو څخه د مننې ترڅنگ د زېربناوو د شریکوني تخنیکي بورډ د غونډې پر اهمیت هر اړخیزي خبري وکړې او د زېربنایي پروژو د پلي کولو په برخه کې ئې د ادارو په همکارۍ ټینگار وکړ. ورپسې د زېربناوو د مشارکت رئیس محمد صابر نثار د تېري غونډې پرېکړه لیک وړاندي او بیا ئې د سالنگونو، د غور ولایت د سړک، د چین تر پولي پوري د پامیر لنډ سړک د پروژو په اړه خبري وکړې او له اړوندو ادارو څخه ئې وغوښتل، چې د یادي برخي تخنیکي مشخصات دي د بنسټیزو پروژو سره د شریکوني په موخه له اړوندو ادارو سره شریک کړي، تر څو د یوې پروژې په پلي کولو سره د څو پروژو د پلي کېدو چانس برابر سي او د پام وړ سپما رامنځته سي.


پاته په دوهم مخ کې ...


## د ښاري اوبو رسولو او فاضله اوبو دولتي شرکت د شاوخوا (۷۵۳) میلیونه افغانیو په ارزښت د اوبو رسولو پروژې پرانیستلې




د مالیې وزارت اړوند د ښاري اوبو رسولو او فاضله اوبو دولتي شرکت له لوري په جوزجان، بلخ، سمنگان، تخار او بدخشان ولایتونو کې د پاکو اوبو رسولو بېلابېلي پروژې پرانیستل سوې. د دغو پروژو په لړ کې د جوزجان مرکز شبرغان کې د (۴۵۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د (۱۴۳) کیلو متره په اوږدوالي سره د اوبو رسولو پروژه پرانیستل سوه. په دې پروژه کې (٦۰۰) متر مکعبه ځمکنۍ ذخیره، (۲۵۰) متر مکعبه ارتفاعي ذخیره او د دوو ژورو څاگانو کیندل شامل دي، چې (۸۰۰۰۰) هیوادوالو ته به ئې گټه ورسېږي. د بلخ ولایت په مرکز مزارشریف کې د تخت پُل پروژې چاري هم بیرته پیل سوې، چې (۵) حلقې څاگان، یوه (۲۵۰) متر مکعبه ذخیره او د ځینو بنسټونو رغول شامل دي، چې ټولیز ارزښت ئې (۲۵۸٦۵۲۴۴۸) افغانۍ دئ او د شبکې اوږدوالی ئې (۳٦) کیلو مترو ته رسېږي، چې (۱۰۱۰۰۰) هیوادوال به په نږدې راتلونکي کې ورڅخه گټه واخلي. د سمنگان ولایت په ایبک ښار کې د قوچنهال د اوبو رسوني پروژه پرانیستل سوه، چې ټول لگښت ئې څه باندي (۲۲) میلیونه افغانۍ کېږي، تر (۱۸۰۰۰) متره پوري اوږدوالی او زر نلونه لري، چې شاوخوا (۱۱٦۰) کورنۍ به ور څخه گټه پورته کړي. د تخار ولایت په مرکز تالقان کې د (۱۱.۵) میلیونه افغانیو په ارزښت د (۲۲) کیلو مترو په اوږدوالي سره د پاکو اوبو پروژه پرانیستل سوه، چې (۳٦۰۰۰) هیوادوالو ته د څښاک پاکې اوبه برابري کړي. همدا راز د بدخشان په فیض اباد ښار کې درې بېلابېلي د پاکو اوبو رسولو پروژې، چې ارزښت ئې (۷۰۳۲۰۴۹) افغانۍ کېږي، پرانیستل سوې، چې له دې سره به هم زرگونه کورنۍ د څښاک له پاکو اوبو څخه برخمنې سي.




د روان مالي کال د تعرفې کمېټې څلورمه ناسته جوړه سوه

م ۲



د نیمروز گمرک کارکوونکو زیات شمېر قاچاقي توکي نیولي

م ۲



د مستوفیتونو د (آی تي) عمومي مدیرانو ته شپږ ورځنۍ روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېد

م ۲




د افغانستان عامه پانگوني د تنظیم (۵۱) ورکشاپونه ترسره سول

م ۲



د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کې د (۲.۴) میلیونه افغانیو په ارزښت رغنیزي چاري پیل سوې

م ۳




د هیواد شپږو ولایتونو ته نوي مستوفیان ور وپېژندل سول

م ٤

شتمنی
SHTAMANI
اوونیزه

# د روان مالي کال د تعرفې کمېټې څلورمه ناسته جوړه سوه

د تعرفې کمېټې د روان مالي کال څلورمه ناسته د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو معين ښاغلي ملا عبدالقاهر ادريس په مشرۍ په دغه معينيت کي جوړه سوه. په دې ناسته کي، چي د تعرفې د کمېټې غړو گډون کړی وو، په پيل کي د گمرکونو او عوايدو معين ټولو گډونوالو ته د ښه راغلاست تر څنگ د ناستي پرانېستونکې وينا وکړه. ور پسې د گمرکونو لوی رياست د تعرفې رئيس ښاغلي عبدالرحمن وقاد د وچو شيدو، تعميراتي رنگ، پلاستيکي يو وار مصرف لوښو، د قالينو او موکتونو، مصنوعي پنبې، د لرگيو او ډېرو سکرو ترکي بخاريو او تريشر ماشينونو د وارداتي تعرفو په اړه هر اړخيز معلوماتي پريزينټېشن وړاندي کړ او د يادو اقلامو د تعرفې په اړه ئې د سوداگرو او صنعتکارانو غوښتني د غونډې له گډونوالو سره شريکي کړې. د تعرفې د کمېټې غړو د يادو اقلامو پر تعرفې هر اړخيز بحث وکړ او له کورني توليد څخه د ملاتړ، سوداگرۍ او دولتي عوايدو د ودي اصل ته په کتو سره ئې په اړه لازمي پرېکړې وکړې.




# د نيمروز گمرک کارکوونکو زيات شمېر قاچاقي توکي نيولي



د نيمروز گمرک د گرځنده څارني کارکوونکو د دې ولايت په شرقي څنځير او نورو بېلابېلو سيمو کي يو ځل بيا (۴۲۶) کيلو گرامه وچي شيدې، (۹۶۹) کيلو گرامه خوراکي رُب، (۲۴۸۱) کيلو گرامه ککو او (۱۲) کارټنه پاکستاني درمل کشف او ونيول. ياد نيول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره د نيمروز گمرک ته وسپارل سول.

### ... د زېربناوو د شريکوني د خبردوام

ورپسې د ادارو د درې کلنو او پنځه کلنو پلانونو په ترتيبولو بحث وسو او د ټولگټو او مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ وزارتونو ترمنځ د شريکوني د هوکړه ليک پر بنسټ د زېربناوو د شريکوني د لاسته راوړنو يادونه وسوه. همدارنگه د احصايې او معلوماتو ملي ادارې استازي د معلوماتو د شريکولو په برخه کي د اسانتيا رامنځته کولو په موخه اړوندو څانگو ته د جيوډېټابېس د رامنځته کولو طرحه وړاندي کړه او د زېربناوو د شريکوني د بورډ له ټولو غړو ئې وغوښتل، چي د فايل شيټ او د اړتيا وړ معلومات دي له دغي ادارې سره شريک کړي. په پای کي د ښاري اوبو رسوني او فاضلابو دولتي شرکت د خپلو پروژو هغه پنځه کلن پلان، چي د کابل ولايت په سيمو کي پلي کېږي د کابل له ښاروالي سره شريک کړي او د پنجشېر سيند د اوبو د لېږد پروژې او د شاه او عروس بند د پلي کولو پلان دې هم د يوې نيمې مياشتې په موده کي ترتيب او له اړوندو ادارو سره شريک کړي. د کابل محترمه ښاروالي مکلفه سوه، چي د يوې اوونۍ په اوږدو کي د خپلو پروژو فايل شيټونه او مشخصات د مخابراتو وزارت او د افغانستان برېښنا شرکت سره شريک کړي؛ تر څو يادې ادارې د هغه پر بنسټ خپل پلانونه ترتيب کړي. د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ وزارت مکلف سو، چي د هغو (۴۲) مخابراتي پروژو اسناد او معلومات چي کارونه ئې بشپړ سوي د زېربناوو د مشارکت له رياست سره شريک کړي.



# د افغانستان عامه پانگوني د تنظيم (۵۱) ورکشاپونه ترسره سول

د ماليې وزارت د عامه پانگوني مديريت د رئيس جليل احمد ميوندي له هدايت سره سم د عامه پانگوني د ښه تنظيم په موخه د بوديجوي واحدونو تخنيکي کارکوونکو ته د (۱۴۰۲) کال دوهمه ربعه کي (۵۱) روزنيز ورکشاپونه ترسره سوي دي. په دې ورکشاپونو کي له (۵۱) بوديجوي واحدونو څخه (۳۳۵) کارکوونکو برخه اخستې وه، چي د پراختيايي پروژو د طرح کولو او لگښت د موندني په اړه روزنه ورکړل سوې، همدارنگه د يادو ادارو د پلان او پاليسۍ برخي له رهبرۍ سره هم تخنيکي ناستي ترسره سوې، چي د پراختيايي بوديجې او د عامه پانگوني په پروسه کي د سته ستونزو، ننگونو او حل لارو په اړه هم هر اړخيز بحثونه وسول. د عامه پانگوني مديريت په پروسه کي د هيواد د پراختيايي اړتياوو پېژندل، دغو اړتياوو ته د حل لارو پيدا کول او ارزول، د هيواد محدودو مالي سرچينو او امکاناتو تخصيص، هغه عامه پانگوني، چي ترټولو لوړ مالي او اقتصادي مؤثريت ولري شامل دي، د عامه پانگوني د مديريت رياست، چي د دې پروسې د تنظيم په برخه کي خورا مهم رول لري، په هيواد کي د اقتصادي ودي چټکول، د متوازني پراختيا رامنځته کول، د گومارني د کچي لوړول، د غوره عامه خدمتونو وړاندي کول او د ملي پراختيايي پروگرامونو د هدفونو تر لاسه کولو په موخه د پراختيايي پروژو تحليل، ارزونه او لومړيتوب ورکول له پلي کېدو څخه په وړاندي پړاوونو کي ترسره کوي. دا رياست هر کال د عامه پانگوني د متحدالمال په صادرولو سره د بوديجوي واحدونو څخه پراختيايي پروژې تر لاسه او له هر اړخيزي ارزوني وروسته د تطبيق وړ پروژې له ناکامه پروژو څخه جلا کوي، بيا د تطبيق وړ پروژو ته د اقتصادي او مالي مؤثريت او د افغانستان اسلامي امارت د پراختيايي لومړيتوبونو په نظر کي نيولو سره لومړيتوب ورکوي او د ملي بوديجې په سند کي د شموليت په موخه ئې د ملي بوديجې لوی رياست او د بوديجې استماعيه کمېټې ته وړاندي کوي، تر څو په اړه ئې لازمي پرېکړې وکړي.




# د عوايدو لوی رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت په پنځلسمه مالياتي حوزه کي د عامه پوهاوي پروگرام ترسره کړ

د ماليې وزارت د عوايدو لوی رياست د حقوقي خدمتونو او عوايدو پاليسۍ رياست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمريت له لوري د کابل ولايت په پنځلسمه مالياتي حوزه (خواجه بغرا) سيمه کي د جايدادونو مالکينو او هټۍ والو ته د مالياتو په باره کي د عامه پوهاوي برنامه تر سره سوه، په دغه پروگرام کي د مالياتو پر ارزښت، کړنلارو او همدارنگه د قوانينو په اړه لارښوونه وسوه. د يادوني وړ ده، چي په دغه عامه پوهاوي پروگرام کي هغه گډونوالو، چي خپل مالياتي مکلفيتونه ئې نه ول اداکړي ژمنه وکړه، چي ژر تر ژره به خپله ماليه بيت المال ته وسپاري.

# د مستوفيتونو د (آی ټي) عمومي مديرانو ته شپږ ورځنی روزنيز ورکشاپ پای ته ورسېد




د عوايدو او گمرکونو په ملي اکاډمۍ کښي د څلور دېرش ولايتونو مستوفيتونو د (آی ټي) برخي (۳۴) تنو عمومي مديرانو ته د معلوماتي ټکنالوژۍ (٦) ورځنی روزنيز ورکشاپ پای ته ورسيد. د ورکشاپ په پای غونډه کښي د ولايتونو د عوايدو د انسجام او پراختيا رئيس انجنير عبدالله حيدري، د معلوماتي ټکنالوژۍ سرپرست رئيس عبيد الله ثاقب او د عوايدو او گمرکونو ملي اکاډمۍ آمر بلال احمد احدي گډون درلود. په پيل کښي د عوايدو د انسجام او پراختيا رئيس انجنير عبدالله حيدري گډونوالو ته د دغه ورکشاپ د ارزښت او له نورو همکارانو سره د خپلو زده کړو او تجربو شريکولو او په اداره کښي د مثبتو تغييراتو د راوستلو جدي سپارښتنه وکړه. نوموړي وويل: «تاسي په مستوفيتونو کښي له همکارانو او ټولو مدير صاحبانو سره په سيستم جوړونه او د تخنيکي ستونزو په حلولو کښي مسؤليت په غاړه لرئ، له دې ورکشاپ څخه وروسته موږ په مستوفيتونو کښي ستاسي د کارونو ارزونه کوو، چي تاسي ټول بايد خپلو اړوندو کارونو ته پاملرنه وکړئ.» د ياد ورکشاپ په پای کښي د پروگرام گډونوالو ته د ازمويني له اخيستلو وروسته د فراغت تصديق ليکونه ورکړل سول او اختتاميه پروگرام ئې د دعايې په ويلو سره پای ته ورسېد.

# امتحان تحريری سه بست رياست اقتصاد بزرگ وزارت ماليه اخذ گرديد

وزارت ماليه متعهد به سپردن کار به اهل کار، ايجاد شفافيت در ادارات مربوطه خويش و جذب کادر های مسلکی داخلی بوده و همواره در اين راستا تلاش نموده است. بر همين اساس رياست منابع بشری امتحان (۳) بست (کارشناس ارشد تحليل و پيشبينی خطرات مالی (مشارکت عامه و خصوصی)، کارشناس ارشد تحليل و پيشبينی خطرات مالی (بانک های دولتی) و آمريت تحليل و پيشبينی خطرات مالی) رياست اقتصاد بزرگ اين وزارت را از طريق رقابت آزاد و بطور شفاف اخذ نمود. در اين امتحان که در خيبرهال وزارت ماليه گرفته شد، (۷) تن در بست کارشناس ارشد تحليل و پيشبينی خطرات مالی (مشارکت عامه و خصوصی)، (۱۱) تن در بست کارشناس ارشد تحليل و پيشبينی خطرات مالی (بانک های دولتی) و (۱۴) تن در بست آمريت تحليل و پيشبينی خطرات مالی رياست متذکره اشتراک نموده بودند. از مجموع اشتراک کنندگان (۳) تن از کسانی که بالاترين نمره را در امتحان تحريری کسب کرده باشند، بعد از سپری کردن امتحان تقريری در بست های مربوطه جذب می گردند.

شتمني
SHTAMANI

# د اندخوی، خوست او ننگرهار د گمرکونو لپاره نوي سرپرست رئیسان معرفي سول




د گمرکونو لوی ریاست په وړاندیز او د مالیې وزارت مقام په منظوری ښاغلی خلیل الرحمن مصطفی د اندخوی گمرک د نوي سرپرست رئیس، ښاغلی محمد خالد منظور احمد د ننگرهار گمرک د سرپرست رئیس او ښاغلی ملا عبدالهادي ابرار د خوست ولایت گمرک د سرپرست رئیس په توگه د یادو گمرکونو کارکوونکو ته ور وپېژندل سول. نوي معرفي سوي کسان په اړوندو او نورو کاري برخو کي بشپړي تجربې لري. ښاغلی خلیل الرحمن مصطفی له دې وړاندي د ننگرهار، پکتیا او سپین بولدک په گمرکونو کي د معاون په توگه دندي تر سره کړي، ښاغلي محمد خالد منظور احمد تر دې مخکي د خوست گمرک د رئیس په توگه او ښاغلي ملا عبدالهادي ابرار له دې وړاندي د ننگرهار گمرک د رئیس په توگه دنده تر سره کړې ده. د مالیې وزارت رهبري هڅه کوي، چي د مسؤلو اشخاصو په تغییر او تبدیل سره د دوی تجربې له یوه بل سره شریکي کړي او د چارو د لا پرمختگ لپاره ورڅخه گټه واخلي.

# د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي د (۲.۴) میلیونه افغانیو په ارزښت رغنیزي چاري پیل سوې



د گمرکونو لوی ریاست د خپلو فعالیتونو په لړ کي دا ځل د هرات ولایت د اسلام کلا په سرحدي گمرک کي د (۲.۴) میلیونه افغانیو په ارزښت د رغنیزو چارو پروژې پیل کړې، په دغو پروژو کي ځلور بابه هنگرونه، د اوبو ذخیرې او د اداري تعمیر د بیا رغوني چاري شاملي دي. د یادو پروژو بودیجه د مالیې وزارت له پراختیایي بودیجې څخه ورکول کېږي، چي چاري به ئې د نږدې پنځو میاشتو په موده کي بشپړې سي.

# د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت په پنځمه مالیاتي حوزه کي د جایدادونو مالکینو ته عامه پوهاوی ورکړ

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت له لوري په پنځمه مالیاتي حوزه کي د هغو جایدادونو مالکینو ته د مالیاتو په تړاو عامه پوهاوی ورکړل سو، چي خپل مالیات ئې پر خپل وخت بیت المال ته نه ول سپارلي. په دغه عامه پوهاوي کي د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو او لایحو په تړاو معلومات ورکړل سول. همدارنگه د دوی ستونزي، چي ولي ئې تر اوسه خپله مالیه بیت المال ته نه ده سپارلې واورېدل سوې او دوی ته لازمي لارښووني وسوې. د یادوني وړ ده، چي د دغه عامه پوهاوي وروسته مالیه ورکوونکو ژمنه وکړه، چي خپل مالیاتي مکلفیتونه به له دې وروسته په خپل وخت بیت المال ته سپاري.

# اعلانات داوطلبی

### اعلان داوطلبی ملکیت های شرکت دولتی سپین زر کندز

شرکت دولتی سپین زر کندز در نظر دارد یک تعداد ملکیت های خویش را که قرارداد آن تکمیل گردیده و یا فاقد قرارداد می باشد که شامل زمین های زراعتی واقع باغ شرکت، ولسوالی های خان آباد، چهار دره و شهرک شیرخان بندر کابل، داش خشت واقع باغ شرکت، رهنماءهای معاملات واقع مرکز شهر کندز، یک باب تانک تیل واقع جوار سرک عمومی بندر کابل، یکباب هوتل واقع مندوی کچالو، اجاره سرایوانی سرای سنگ واقع جوار سرک قهوه خانه، یکباب ورکشاپ واقع توت باغ سابقه، موازی ۱۱۰۰ متر مربع زمین ساحه چوب فروشی واقع باغ شرکت، موازی ۶۰۰۰ متر مربع ساحه ناک باغ واقع قهوه خانه، موازی ۳۳۲۰ متر مربع زمین سفید محوطه شده واقع عقب چمن سپین زر و یکباب گدام واقع جوار سرک ریاست معدن را به اعلان داوطلبی بگذارد بناءً افراد و اشخاص واجد شرایط که خواهش اشتراک در مجلس داوطلبی جایداد های متذکره را داشته باشند، می توانند از تاریخ نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۴۵/۵/۱۴ با درخواست های خویش به مدیریت عمومی جایداد های شرکت دولتی سپین زر کندز مراجعه نمایند. شرطنامه را ملاحظه و تضمین نقداً اخذ می گردد.

### تدارک موازی ۱۷۵۰ متر ده قلم نلباب مختلف السایز طبق مشخصات مندرج شرطنامه

به اساس نیاز مندی ها تدارک موازی ۱۷۵۰ متر ده قلم نل باب مختلف السایز طبق مشخصات مندرج شرطنامه مورد نیاز، ضرب العجل اخذ شرطنامه به روز یکشنبه الی ساعت ۲:۳۰ بجه بعد از ظهر تاریخ ۱۴۰۲/۹/۱۲ و مجلس آفر گشایی آن به روز دو شنبه ساعت ۱۰:۰۰ بجه قبل از ظهر تاریخ ۱۴۰۲/۹/۱۳ در مدیریت عمومی تدارکات اجناس این شرکت تدویر می گردد، از داوطلبان واجد شرایط دعوت به عمل می آید تا در پروسه داوطلبی پروژه فوق الذکر اشتراک نمایند. شرطنامه از مدیریت تدارکات اجناس شرکت دولتی تولید کود و برق مزار شریف در بدل ۳۰۰۰ افغانی بدست آورند. آفرهای ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد. تضمین آفر، اهلیت داوطلبی می باشد. آدرس: مدیریت عمومی تدارکات اجناس شرک دولتی تولید کود و برق واقع پل امام بکری ولسوالی دهدادی ولایت بلخ منزل اول جوار دروازه ورودی وسایط. شخص ارتباطی الحاج هلاالدین هلال، شماره تماس ۰۷۹۷۳۸۷۸۳۲ --- ۰۷۸۲۵۷۴۰۹۲
نوت: در صورتیکه تاریخ تسلیمی آفرها به روز رختصی تصادف نماید، آفرها در روز بعدی کاری در همان ساعت تعیین شده تسلیم و بازگشایی خواهد شد.

### اعلان داوطلبی ملکیت های شرکت دولتی سپین زر کندز

شرکت دولتی سپین زر کندز در نظر دارد یک تعداد ملکیت های خویش را که قرارداد آن تکمیل گردیده شامل موازی ۹۰۰۰ متر مربع سرای واقع شیرخان بندر و یک باب موتر شویی واقع مقابل شفاخانه را به اعلان داوطلبی بگذارد بناءً افراد و اشخاص واجد شرایط که خواهش اشتراک در مجلس داوطلبی جایداد های متذکره را داشته باشند، می توانند از تاریخ نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۴۵/۵/۲۱ با درخواست های خویش به مدیریت عمومی جایداد های شرکت دولتی سپین زر کندز مراجعه نمایند. شرطنامه را ملاحظه و تضمین نقداً اخذ می گردد.

### تدارک تجهیزات تکنالوژی ریاست سیستم عواید

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی پروژهء (تدارک تجهیزات تکنالوژی ریاست سیستم عواید ) دارای نمبر تشخیصیه (۱٤۰۲/MOF/ ۰۸۹-NCB/G) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت می گیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش یا میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۰۸/ قوس /۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۹/ قوس/۱٤۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۵۰۰،۰۰۰ (پنجصد هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات منزل دوم.

### اعلان داوطلبی جایداد های دولتی

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد های دولتی ذیل را به شکل آفر سربسته از طریق پروسه داوطلبی به اجاره و کرایه میدهد.
۱. موازی (۱۱۱۹۷) متر مربع زمین واقع قرایه قلعه مراد بیک ولسوالی شکردره ولایت کابل.
۲. موازی (۵۸۵۰) متر مربع زمین واقع قریه مراد بیک ولسوالی شکردره ولایت کابل.
در صورتیکه اشخاص حکمی و حقیقی واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند، در خواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱۴) منزله سینما پامیر سپرده و بعد از نشر اعلان الی (۲۱) یوم مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول نقد بدون بازگشت حق الاشتراک را پرداخت نمایند.

### اعلان داوطلبی ساحه ۱۱۰۳ متر مربع زمین ملکیت شرکت افسوتر

آمریت عمومی مرکز تخنیکی و ترانسپورتی شرکت افسوتر ساحه ۱۱۰۳ متر مربع زمین که با ۱۴ پایه کانتینر احاطه گردیده در مسیر شاهراه کابل پروان موقعیت دارد برای مدت سه سال به کرایه میدهد شرکتها، اشخاص انفرادی و موسسات که خواهش به کرایه گرفتن آنرا داشته باشند درخواست های خویش را به آمریت عمومی مرکز تخنیکی و ترانسپورتی افسوتر واقع حصه اول خیرخانه سپرده خود و یا نماینده شان بعد از نشر اعلان الی تاریخ ۱۴۰۲/۹/۹ جهت آفرگشایی مراجعه نمایند، شرطنامه را ملاحظه و تامینات طبق شرطنامه اخذ می گردد.

### مزایده جایداد دولتی واقع ولسوالی چهار آسیاب، ولایت کابل

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه جایداد موازی (۷۸۰) متر مربع به شمول تعمیر مخروبه واقع بازار ولسوالی چهار آسیاب به منظور افزایش عواید امارت اسلامي به کرایه ما هوار مبلغ (۱۵۹۵۰) افغانی به شکل آفر سربسته به اعلان مزایده می سپارد. در صورتیکه اشخاص، موسسات و شرکتهای واجد شرایط خواهش اجاره و کرایه گرفتن جایداد های فوق الذکر را داشته باشند، در خواستی های خویش را به ریاست عمومی املاک دولتی واقع تعمیر (۱۴) منزله سینما پامیر سپرده و بعد از نشر اعلان الی (۷) یوم مراجعه شرطنامه را ملاحظه نموده پول نقد بدون بازگشت حق الاشتراک را پرداخت نمایند.



د امتیاز خښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندي

ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره: ۰۲۰۲۹۲۴۴۴۰(+)

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه



## Municipal Water Supply & Sewerage SOC Inaugurates Water Supply Projects Worth Over 753 million Afs in Miscellaneous Provinces

Various clean water supply projects have been opened in Jawzjan, Balkh, Samangan, Takhar and Badakhshan provinces by Municipal Water Supply & Sewerage State-owned Corporation (SOC) of Mof. In the series of these projects, a water supply project that costs 454 million Afs with a length of 143km has been inaugurated by Municipal Water Supply & Sewerage SOC of MoF in Shabarghan, the center of Jawzjan province. This project includes 600m$^3$ of an underground water tank, 250m$^3$ of overhead water storage tank and the digging of two deep wells, which will benefit 80,000 inhabitants. The Takht Pul project in Mazar Sharif, the center of Balkh province has also been resumed, which includes five wells, a 250m$^3$ water reservoir and the construction of some buildings. The Project has a total value of 258,652,448 Afs and the length of the water supply network reaches 36km, which in the near future 101,000 compatriots will benefit from the said project.



The Quchanhal water supply project was opened in Aybak city of Samangan province and the total cost of this project touches 22 million Afs. It has a length of up to 18,000m and has 1,000 pipes, which will serve about 1160 families. Another clean water project costs 11.5 million Afs with a length of 22km was inaugurated in Talaqan, the capital of Takhar province in order to provide clean drinking water for 36,000 citizens. In addition, Faizabad city of Badakhshan province also hosted three different clean water supply projects worth 7,032,049 Afs, which will also provide thousands of families with clean drinking water.

## New System of Interbank Payments Opened




The ACSS system, newly established on behalf of Da Afghanistan Bank was opened by a number of officials of MoF and DAB. ACSS system can be easily connected with the systems of SIGTAS, AFMIS and ASYCUDA related to MoF and as well as the system of CBS of Da Afghanistan Bank. This system, which is standing on international standards and is more secured, will have positive results for the national revenues, the execution of salaries to government employees and the banking sector. The said system will also create more transparency, speed and convenience in the related sectors.

## Construction Works Worth 2.4 million Afs Incepted at Border Customs of Islam Qala in Herat Province



The General Directorate of Customs as part of its activities has started construction projects worth 2.4 million Afs at the Border Customs of Islam Qala in Herat Province. The projects include four hangars, water tanks and the reconstruction of administration building. The budget for these projects is provided from the development budget of the Ministry of Finance, which will be accomplished within five months.

